افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET




# وياړلی ملت، بريالی لوبډله

## GLORIOUS NATION, VICTORIOUS TEAM

سوداګريزه څانګه

دولسم کال، دويمه ګڼه | مهالنۍ مجله | ۲۰۲۶ز کال

افغانستان کرکټ بورډ

سوداګریزه څانګه

مهالنۍ مجله

۲۰۲۶ز کال


د امتیاز څښتن: افغانستان کرکټ بورډ

مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی

لیکوالان او راټولوونکي: حکیم الله احمدزی، خپلواک دریځ، او سید نسیم سادات

عکاس: سید حسرت سادات

ډیزاین عبدالغفور کاروان


www.facebook.com/AfghanistanCricketBoardOfficial
www.facebook.com/ACBDomestic
www.facebook.com/GAOneDayCup
twitter.com/ACBofficials
twitter.com/AcbDomestic
/twitter.com/GAOneDayCup
www.instagram.com/afghanistancricketboard/
www.instagram.com/gaonedaycup/
www.youtube.com/c/AfghanistanCricketBoardOfficial
cricket.af/
whatsapp.com/channel/0029Va8IzMuJkK71MdD70Q1m

# لیکلړ


1 سرمقاله ........................ 1
2 د کابل نړیوال کرکټ کمپلکس د سترې او مهمې ورزشي پروژې رغنیزې چارې پیل شوې ........................ 2
3 سپین غر زون د لېسټ اې لوبو اتلولي خپله کړه ........................ 4
4 کندهار کرکټ لوبغالي کې د دوو رغنیزو پروژو چارې پیل شوې ........................ 14
5 د افغانستان کرکټ بورډ یوه ټاکلي پلاوي چین ته سفر وکړ ........................ 16
6 د افغانستان کرکټ بورډ له لوري په خوست کې د ۱۹ کلنو کم عمره ملي لوبډلې د غوراوي پروسې سیالۍ پیل شوې 18
7 بست زون لوبډلې د امید وطن ملي شل اوریزه سیالیو اتلولي وګټله ........................ 20
8 د کرکټ قوانین ........................ 36
9 Beyond the Boundary: How Cricket Shapes Culture and Community ........................ 40
10 محمد سلیم ساپي؛ د افغانستان د کرکټ د چټکې توپ اچونې نوې هیله ........................ 42
11 امو زون د میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو لومړی مقام ترلاسه کړ ........................ 44
12 بست زون د نجیب الله تره کي معلولینو شل اوریزه سیالیو اتلولي خپله کړه ........................ 52
13 افغان اتلانو په هند او افغان ابدالیانو په سریلانکا کې سیالۍ ترسره کړې ........................ 60
14 رحمن الله ګـربـز په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۲۰۰۰ منډې بشپړې کړې ........................ 66
15 راشد خان په نړیوال کرکټ کې ۴۵۰ ویکټې بشپړې کړې ........................ 68
16 حشمت الله شهیدي په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۲۵۰۰ منډې بشپړې کړې ........................ 70


# سرمقاله

افغانستان کرکټ بورډ د روان ۱۴۰۵ کال له پیل راهیسې د تل په څېر بوخت کال لري. د کورني کرکټ ترڅنګ یې د نړیوال کرکټ سیالۍ هم روانې دي. د رغونې او بیارغونې چارو ته ډېره پاملرنه شوې ده له خوست نیولې، تر ننګرهار او کندهار او بیرته تر کابل پورې د لوبغالو او اکاډمیو او دغه راز د مېلمستونونو رغنیزې چارې په ښه او منظم ډول روانې دي. د ظرفیت لوړونې څانګې له لوري بېلابېل کمپونه ترسره شول او دغه راز د نوولس کلنو نړیوال جام لپاره د یادې ټیم لوبغاړو د غوراوي پر پروسې او لړۍ لا هم کار روان دی. افغانستان کرکټ بورډ دوري یا حمل میاشتې راهیسې د کورني کرکټ بېلابېلې سیالۍ ترسره کړې چې د میرویس نیکه درې ورځنۍ، د وزیر محمد اکبرخان دویمه او لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ، ملي شل اوریز جام سیالۍ، لېست اې سیالۍ او شپږیزه کرکټ لیګ سیالۍ پکې شاملې دي. دغه سیالۍ په خورا ښه ډول ترسره شوې چې له منځه یې ملي شل اوریز جام، لېست اې او شپږیزه کرکټ لیګ سیالۍ په ښه ډول تنظیم او په ژوندۍ بڼه د تلویزیون له لارې ننداري ته وړاندې شوې. افغانستان کرکټ بورډ دغه راز د افغان ابدالیانو یا الف لوبډلې لپاره درې اړخیزه لوبلړۍ تنظیم کړه چې د سریلانکا هېواد په کوربه توب د افغانستان، هندوستان او سریلانکا الف لوبډلو ترمنځ ترسره شوه. سربېره پر دې افغان لوبډلې د هندوستان په کوربه توب لوبلړۍ کې هم ګډون وکړ. که څه هم دغه لوبلړۍ د افغان لوبډلې په ماتې پای ته ورسېده، خو د یوې سترې لوبډلې پر وړاندې د افغان لوبډلې لپاره یوه ښه تجربه وه. هېره دې نه وي چې په دغه موده کې د نوولس کلنو د ملي لوبډلې لپاره د غوراوي لړۍ هم ترسره شوه چې په ټوله کې له بېلابېلو برخو ترې ٦٦ کسان غوره شول چې په خوست کې د غوراوي او روزنې اړوند کمپ وروسته ترې د ننګرهار روزنیز او چمتووالي کمپ ته ۳۳ کسان غوره شول چې له دې ډلې به هم ځینې کسان کمیږي او په پای کې به ترې نهایي لوبډله جوړیږي. دغه راز د یادونې وړ ده چې افغان لوبډله به په کورني کرکټ کې له دې وروسته احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سیالۍ ترسره کوي چې له هغه وروسته د افغانستان شل اوریز غوره لیګ لپاره هم بشپړه تابیا نیول شوې ده. که چېرې په منځني ختیځ کې روان کړکېچ پای ته ورسیده نو د روان کال په وروستۍ لسیزه کې به دغه ستر لیګ هم ترسره شي. باید وویل شي چې افغان لوبډله په سپتمبر میاشت کې د دریو نړیوالو شل اوریزو سیالیو لپاره هم د هندوستان ملي لوبډلې کوربه توب کوي چې له دې وړاندې به د ایرلنډ په کوربه توب افغان لوبډله یاد هېواد ته سفر وکړي چې پکې به د دواړو لوبډلو ترمنځ پنځه یو ورځنۍ نړیوالې سیالۍ ترسره شي. په پای کې د یادونې وړ ده چې همدارنګه افغانستان کرکټ بورډ نور ډېر فعالیتونه هم په پام کې لري چې ګام په ګام به یې له هېوادوالو سره شریک کړي.





# د کابل نړیوال کرکټ کمپلکس د سترې او مهمې ورزشي پروژې رغنیزې چارې پیل شوې

د افغانستان کرکټ بورډ له لوري د مې میاشتې په ۱۲ مه نېټه د کابل ښار د ۱۶ مې ناحیې په الوخیلو سیمه کې د افغان دولت د مسوولینو، د افغانستان کرکټ بورډ د مشرتابه او د رسنیو د استازو په شتون کې د کابل نړیوال کرکټ کمپلکس د سترې او حیاتي پروژې رغنیزې چارې په رسمي ډول پیل شوې چې بېلابېلې اسانتیاوې لرونکی به وي.

د کرکټ دغه کمپلکس په ۸۶ جریبه ځمکه کې جوړیږي چې په یوه وخت کې به د شا وخوا ۴۰ زره ننداریانو د ځایېنت ظرفیت ولري. سربېره پر دې به دغه ستر کمپلکس یو عمومي او دوه فرعي لوبغالي، ستر مېلمستون، ستر جومات، رویال باکس، د لوبغاړو د اړتیا وړ خونې، د شپنیو سیالیو لپاره د څراغونو او رڼا مجهز سیستم، د رسنیو او مبصرینو لپاره د عصري خونو او نورو اړوند اسانتیاوو لرونکی وي.

هېره دې نه وي چې دغه کمپلکس به د ۲۵ ویشتنځایونو د سرخلاصي معیاري اکاډمي یا روزنځای، او د سرپټي او اندور اکاډمي لرونکی وي چې سربېره پر دې به د موټرونو د تمځای، د حوض، سونا، د دفتري ساحې، د درملنې د مرکز، د مجلسونو د خونو، جېم خونې او نورې اسانتیاوې ولري.

هېره دې نه وي چې د دغه لوبغالي د پرانیستې په مراسمو کې د ریاست الوزرا د مقام دفتر عمومي رییس ښاغلي ډاکټر ملا عبدالواسع، د المپیک او بدني روزنې عمومي رییس ښاغلي احمدالله وثیق، د افغانستان بانک د نظارت او څار څانګې مشر دوکتور لطف الله خیرخواه او د سوداګرۍ خونې ارشد سلاکار او د افغانستان کرکټ بورډ د بورډ غړي ښاغلي خان جان الکوزي ویناوې هم وکړې.

د ښاغلي ډاکټر ملا عبدالواسع په وینا، د افغانستان اسلامي امارت د نورو برخو ترڅنګ د ورزش ډګر ته هم ځانګړې پاملرنه کړې ده او دې برخې ته به نور پام هم زیاتوي. هغه زیاته کړه: تاسو ولیدل چې څو ورځې وړاندې افغانستان د المپیک سیالیو ته له بېلابېلو هېوادونو لوبغاړې راغلي وو چې افغانانو یې تود هرکلی وکړ. دا دی نن د یوې سترې پروژې د پرانیستې شاهدان یو چې د کرکټ لوبغاړو ته به یې ډېره ګټه ورسیږي. هیله لرو چې نورې اداري هم ورته چارې او رغنیزې لړۍ جاري وساتي، ترڅو افغانستان بیرته په پښو ودرو او ویجاړې یې په رغونې بدله کړو.

په دغو مراسمو کې د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه هم د یادې پروژې او نورو رغنیزو پروژو په اړه معلومات وړاندې کړل او په وینا یې د لوبغالو رغونې او د کرکټ پراختیا ته یې د نورو چارو ترڅنګ لومړیتوب ورکړی دی. همدارنګه د یادو مراسمو نورو ګډونوالو هم د رغونې او لاسته راوړنو په ډګر کې د افغانستان کرکټ بورډ هلې ځلې وستایلې او ورزش یې په ټولنه کې یوه مهمه او اړینه پدیده وبلله.



باید ووېل شي چې د دې پروژې سربېره به ډېر ژر د نجیب الله تره کي د کرکټ لوبغالي د ماسترپلان چارې بشپړې شي چې دغه راز به د کندهار کرکټ لوبغالي، د خوست کرکټ لوبغالي او پاتې نورو لوبغالو او اکاډمیو چارې هم یو په بل پسې سر ته ورسیږي.

په پای کې د یادونې وړ ده چې د دغه ورزشي کمپلکس په لومړي ګام کې به دري میدانونه، احاطوي دېوال، د شپې څراغونه او اړوند پویلیونونه جوړ شي چې ورپسې به یې یوبه بل پسې اړوند رغنیزې چارې ترسره شي. چې دا مهال یې د احاطوي دیوال چارې عملا جریان لري.

همدارنګه باید ووېل شي چې افغانستان کرکټ بورډ تېر کال د رغنیزو چارو د لړۍ په دوام د لوګر او لغمان کرکټ لوبغالو رغنیزې چارې او سربېره پر دې د ننګرهار د نجیب الله تره کي کرکټ اکاډمۍ پراخوالې، د میدان وردګ کرکټ اکاډمۍ، د لوګر لوبغالي ترڅنګ د اکاډمۍ، د لغمان لوبغالي ترڅنګ د اکاډمۍ رغول، پکتیکا کې د یوې کرکټ اکاډمۍ رغول، کندز کې د کرکټ اکاډمۍ له سره رغول شامل دي.

بگی در ولایات مختلف، مداوای بازیکنان زخمی، آماده ساختن بازیکنان زیر سن نزده سال برای جام آسیا و همچنان ترتیب و تنظیم ورکشاپ های مختلف مربی گیری، ترینران و سکوررها شامل بودند.

تخار، پروان، کندز و بعضی ولایات دیگر شامل میباشد.

د افغانستان کرکټ بورډ د انجنیرۍ څانګې د کندهار په کرکټ لوبغالي کې دوه نوې پروژې پیل کړې چې پکې د لوبغالي د احاطوي دېوال جوړول او د پویلین د تعمیر عصري بیارغونه شامل دي.

یادې پروژې د شا وخوا ۱۲ میلیون افغانیو په لګښت ترسره کېږي چې په نږدې ٦ میاشتو کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د یادونې وړ ده چې تېرو کلونو کې هم په کندهار کرکټ لوبغالي کې ورته پروژې ترسره شوې چې پکې ۲۰۲۳ کال کې د اکاډمۍ رغونه او ۲۰۲۵ کال کې یې پراختیا چې ویشتنځایونه پکې له څلورو څخه اتو ویشتنځایونو ته لوړ شول، د لباس بدلولو خونې او تشنابونو جوړول، د میلمستون بیارغول او د کندهار د یو ملي سوداګر له لوري د مسجد جوړول چې کارونه به یې لنډ وخت کې پوره شي، شامل وو.

باید وویل شي چې افغانستان کرکټ بورډ په پلان کې لري چې د کابل نړیوال کرکټ کمپلکس ترڅنګ په څلورو زونونو کې یو-یو میدان نړیوالې کچې او معیار ته ورسوي چې دا چارې په تدریجي ډول پر مخ روانې دي.




# سپین غر زون

## د لیسټ اې لوبو اتلولي خپله کړه

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ ځانګې د کلني مهالوېش سره سم د زونونو په کچه د اي انډ لېست اې یو ورځنیو سوپرکولا سیالیو اتلولي سپین غر زون لوبډلې په خپل نوم کړه. دغه سیالۍ چې د هېواد د پنځو زونونو لوبډلو پکې برخه درلوده، په پایلوبه کې یې سپین غر زون لوبډلې د امو زون لوبډلې ته د ۸۴ منډو په لوی توپیر سره ماتې ورکړه او د دویم ځل لپاره یې د لېسټ اې سیالیو اتلولي وګټله.

د افغانستان د کورني کرکټ ستري لېسټ اې سیالۍ چې د تېرې مې میاشتې په ۱۷مه نېټه پیل شوي وې، د جون میاشتې پر ۴مه پای ته ورسېدې. دغه په زړه پوري سیالۍ چې د ننګرهار ولایت پر غازي امان الله خان او نجیب الله تره کي لوبغالو ترسره شوې، په لویه کچه د مینه والو له تود هرکلي سره مخ شوې.

د سږ کال اي انډ جام لېسټ اې یو ورځنیو سوپرکولا سیالیو کې د کورني کرکټ د ستورو لوبغاړو تر څنګ د ملي لوبډلې پیاوړي



او نوموتي لوبغاړي هم ولوبېدل، چې په خپل شتون یې یادو سیالیو ته نوی رنګ او ولولې ور بخښلي وې. دا ځل په یادو سیالیو کې د محمدنبي، رحمن الله ګربز، ابراهیم ځدراڼ په څېر تږول ملي ستوري ولوبېدل چې په خپل شتون سره یې د کورني کرکټ راتلونکو ستورو ته خپلې نړیوالې تجربې ولېږلې.




## د لوبډلو شمېر او د لوبو څرنګوالی

د اي انډ لېسټ اې یو ورځنیو سوپرکولا سیالیو کې د بست، سپین غر، مس عینک، امو او بندامیر زونونو لوبډلو ګډون کړی وو، چې لومړی یې په ګروپي پړاو هرې لوبډلې ٦ لوبې ترسره کړې. په دغه پړاو کې ټولې ۱۵ لوبې ترسره شوې، چې د سپین غر او امو زونونو لوبډلو وکولی شول، د نمرو په جدول کې لومړی او دویم مقام ترلاسه کړ او ځانونه یې تر پایلوبې ورسول.

## اي اند جام لیست اې یو ورځنۍ سوپرکولا سیالۍ

## e& LIST A TOURNAMENT 2026

POWERED BY SUPERCOLA

| DATES | TEAM-1 | | TEAM-2 | VENUE | |
|---|---|---|---|---|---|
| May 17 | BAND-E-AMIR | V | MIS-E-AINAK | GAK | LIVE STREAM |
| May 18 | BOST | V | AMO | GAK | LIVE STREAM |
| May 19 | SPINGHAR | V | BAND-E-AMIR | GAK | LIVE STREAM |
| May 20 | MIS-E-AINAK | V | BOST | GAK | LIVE STREAM |
| May 21 | AMO | V | SPINGHAR | GAK | LIVE STREAM |
| May 22 | BAND-E-AMIR | V | BOST | GAK | LIVE STREAM |
| May 23 | MIS-E-AINAK | V | AMO | GAK | LIVE STREAM |
| May 24 | BOST | V | SPINGHAR | GAK | LIVE STREAM |
| May 25 | BAND-E-AMIR | V | AMO | GAK | LIVE STREAM |
| MAY 26 - 29 | EID AL-ADHA HOLIDAYS | | | | |
| May 30 | MIS-E-AINAK | V | SPINGHAR | GAK | LIVE STREAM |
| May 30 | BAND-E-AMIR | V | BOST | NTCG | |
| May 31 | SPINGHAR | V | BOST | GAK | LIVE STREAM |
| May 31 | AMO | V | MIS-E-AINAK | NTCG | |
| June 1 | BAND-E-AMIR | V | AMO | GAK | LIVE STREAM |
| June 2 | SPINGHAR | V | MIS-E-AINAK | NTCG | |
| JUNE 4 | QUALIFIER -1 | FINAL | QUALIFIER -2 | GAK | LIVE STREAM |



## د لوبډلو جوړښت

د افغانستان د کورني کرکټ په یادو سترو لیسټ اې سیالیو کې د افغانستان ملي لوبډلې ټول لوبغاړي ولوېدل، چې په خپل شتون یې یادو سیالیو ته نوی رنګ او خوند ورکړی و. ملي اتلانو په خپل شتون سره نه یوازې دا چې لوبې ښکلې کړې وې، بلکې ځوان لوبغاړو ته یې خپلې نړیوالې تجربې هم ولېږدولې. دغه راز په لیسټ اې لوبو کې د افغانستان ملي الف او ملي نولس کلنو لوبغاړو تر څنګ د کورني کرکټ نوموتي لوبغاړي او د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي یو ورځنیو سیالیو ځلېدلي نوي لوبغاړي هم ولوېدل.
افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ ځوان لوبغاړو لپاره د مخکې راتګ یوه روښانه تګلاره جوړه کړې، چې له مخې یې په خپلې کارګردګۍ او وړتیا کولی شي تر سترو سیالیو ځان ورسوي. د کورني کرکټ نوي ځوان لوبغاړي لومړی د کلبونو په کچه لوبو کې، دویم د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه او ورپسې د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبو کې په خپلې ښې کارګردګۍ تر لیسټ اې یو ورځنیو لوبو ځان رسولی شي.

## تر ټولو ډېرې منډې

د سپین غر زون لوبډلمشر درویش رسولي چې خپله لوبډله یې تر اتلولۍ ورسوله، په یادو سیالیو کې د مخکښ منډه جوړوونکي لقب هم په خپل نوم کړ. درویش ټولې ۷ لوبې ترسره کړې او د ۹۹ سټرایک ریټ او ۱۰۴ اوسط سره یې ۴۱۹ منډې جوړې کړې. د درویش په ټوپوهنه کې ۲ سلیزې او ۲ نیمه سلیزې شاملې وې. نوموړي خپلې لوړې ۱۰۱ منډې د امو زون لوبډلې پر وړاندې جوړې کړې وې. دغه لوبه کې درویش رسولي په ۷۷ کمو توپونو د ۵ شپږیزو او ٦ څلوریزو پر مټ ۱۰۱ منډې جوړې کړې وې.



## د سیالیو رسمي خپروونکي چېنلونه

د افغانستان کرکټ بورډ او فایربرډ ورزشي مدیریتي شرکت ترمنځ د تړون له مخې دغه شرکت د افغانستان او بنګله دېش ترمنځ د درې نړیوالو یو ورځنیو سیالیو نشراتي حقوق په ټوله نړۍ کې په بېلابېلو چېنلونو وپلورل. د دغو سیالیو د خپراوي حقوق په افغانستان کې د افغانستان ملي راډیو تلویزیون او اتصالات ته ورکړل شوي و چې له مخې یې ملي راډیو تلویزیون په تلویزیون او اتصالات د خپل انلاین اپلیکیشن له لارې دغه سیالۍ په ژوندۍ بڼه نشر کړې. د دې ترڅنګ دغه سیالۍ په بنګله دېش ناګوریک تلویزیون (Nagorik TV)، ټي سپورټس (T Sports) او ټافي اپلیکېشن (Toffee App)، په پاکستان کې ټپ مډ (Tap Mad) او په هند کې یورو سپورټس (Euro Sports) او فنکوډ (Fan-code) نشر کړې. دغه راز په منځنۍ ختیځ کې چېنل سپورټس (Channel Sports)، د امریکا په متحده ایالاتونو او کاناډا کې ویلو تلویزیون (Willow TV) او په نوره نړۍ کې د افغانستان کرکټ بورډ له یوټیوب چینل په ژوندۍ بڼه خپرې شوې.

## زیاتې سلیزې



د بست زون لوبډلې ویکټ ساتونکي افسر ځاځي په سږ کال لېسټ اې یو ورځنیو سیالیو کې د زیاتو سلیزو کارنامه په خپل نوم ثبت کړه. افسر چې دغه سیالیو کې یې یوازې ۳ لوبې ترسره کړې، پکې یې ۲ سلیزې او یوه نیمه سلیزه جوړه کړه. افسر خپله لومړۍ سلیزه د بند امیر زون پر وړاندې او دویمه سلیزه د سپین غر زون پر وړاندې ترسره کړه.

## په یوه پاڼۍ کې تر ټولو لوړې منډې



د بست زون لوبډلې ویکټ ساتونکي افسر ځاځي په سږ کال لېسټ اې یو ورځنیو سیالیو کې د زیاتو سلیزو کارنامه په خپل نوم ثبت کړه. افسر چې دغه سیالیو کې یې یوازې ۳ لوبې ترسره کړې، پکې یې ۲ سلیزې او یوه نیمه سلیزه جوړه کړه. افسر خپله لومړۍ سلیزه د بند امیر زون پر وړاندې او دویمه سلیزه د سپین غر زون پر وړاندې ترسره کړه.

## (په یوه پاڼۍ کې تر ټولو زیاتې منډې (د لوبډلې لخوا



د زونونو په کچه لېسټ اې یو ورځنیو سیالیو کې سږ کال د ملي لوبغاړو تر څنګ ډېر ځوان لوبغاړي هم وځلېدل او د یادو لوبغاړو ځلېدنه په ځانګړې توګه په توپوهنه کې د پام وړ وه. دغه سیالیو کې د بست زون لوبډلې وکولی شول چې یوه لوبه کې تر ټولو زیاتې ۳۳۵ منډې جوړې کړي. بست زون لوبډلې د بندامیر زون لوبډلې پر وړاندې لوبه کې د بند امیر د ۳۳۴ منډو په ځواب کې خورا په زړه پورې توپوهنه ترسره کړه او د هدف په ترلاسه کولو یې ۳۳۵ منډې ترسره کړې، چې په دې سره یې یوه لوبه کې د تر ټولو زیاتو منډو جوړولو مقام هم په خپل نوم کړی. بست زون لوبډلې دغه کارنامه د نجیب الله ځدراڼ د ۱۵۹ او کریم جنت د ٦۴ منډو پر مټ ترسره کړه.



## (په یوه لوبه کې تر ټولو ډېرې منډې (د دواړو لوبډلو مجموعي منډې

د افغانستان د کورني کرکټ لېسټ اې یو ورځنیو سږ کال په ټولیزه توګه ۷ داسې لوبې ترسره شوې، چې پکې تر ۵۰۰ او ٦۰۰ پورته منډې پکې جوړې شوې. د افغانستان کرکټ بورډ لپاره دا یو ښه زېری دی چې په کور دننه سیالیو کې د توپوهنې په برخه کې لوبغاړي ښه ځلیږي، څو د ملي لوبډلو لپاره ښه توپوهونکې د پشتوانې په توګه ولري. د سږ په لېسټ اې سیالیو کې د بندامیر او بست زونونو تر منځ یوه لوبه کې تر ټولو زیاتې ٦٦۹ منډې جوړې شوې وې. په دغه لوبه کې لومړی بندامیر لوبډلې توپوهنه کړې وه او په ټاکلو ۵۰ اورونو کې یې د ۳۳۵ منډو هدف ټاکلی و، چې ځواب کې یې بست لوبډلې د لوبې په ۴۹.۱ اورونو کې د ۸ ویکټو په تاوان ۳۳۵ منډې پوره کړې وې او دغه لوبه یې به خپله ګټه تمامه کړې وه.

## په یوه پاڼۍ کې تر ټولو لوړې منډې

په نهم پړاو لېسټ اې یو ورځنیو سیالیو کې تر ټولو اوږده ملګرتیا هم د بست زون د توپوهونکو افسر ځاځي او نصیر خان په نوم ثبت شوه. دوی دواړه په یوه لوبه کې د بندامیر زون لوبډلې پر وړاندې د ۱۸۱ منډو اوږده ملګرتیا په خپل نوم کړه. په یاده ملګرتیا کې افسر ځاځي په ۹۵ توپونو ۱۱۰ منډې او نصیر خان په ٦۸ توپونو ٦٦ منډې جوړې کړې وې. باید وویل شي چې په یاده لوبه کې بست زون لوبډلې ۲۸۲ منډې هدف ټاکلی و، چې ځواب کې یې بندامیر یوازې ۹۵ منډې جوړې کړې وې.



## ترټولو زیاتي ویکټې




د سپین غر زون لوبډله چې په توپوهنه کې یې لوبډلمشر درویش رسولي ښه ځلېدلی و، دغه راز یې د توپ اچونې په برخه کې چټک توپ اچوونکي یمین احمدزي غوره توپ اچونه ترسره کړې وه او د زیاتو ویکټو ترلاسه کولو کارنامه یې په خپل نوم کړې وه. یمین د خپلې لوبډلې په ګټه ۵ لوبې ترسره کړي وې، چې په ۴.۷۲ غوره اقتصادي توپ اچونې سره یې ۱۵ ویکټې ترلاسه کړي وې. نوموړي خپله غوره توپ اچونه د امو زون لوبډلې پر وړاندې ترسره کړې وه، چې په ۱۰ اورونو کې یې د ۳۳ کمو منډو په ورکولو او ۳.۳۰ اقتصادي توپ اچونې سره یې ٦ لوبغاړي د لوبې له ډګره بهر کړي وه.

## ترټولو زیات کیچونه



د ډګر ساتنې په برخه کې بیا د امو زون لوبډلې پیلیز توپوهونکی فیصل خان شینوزاده تر نورو وړاندې و او دغه سیالیو کې یې ټولټال ۵ او یوه لوبه کې زیات ۲ کیچونه نیولي وه. فیصل په پنځه لوبو کې او د سپین غر لوبډلې ډګر ساتونکي بهیرشاه محبوب بیا ۷ لوبو کې ۵ کیچونه ترلاسه کړي وه.

## ترټولو غوره لوبغاړی




د زونونو په کچه د لیسټ اې نهم پړاو یو ورځنیو سیالیو د تر ټولو غوره لوبغاړي جایزه د بست زون لوبډلمشر کریم جنت ترلاسه کړه. کریم په دغه سیالیو کې د توپوهنې په برخه کې ۲۱۳ منډې او د توپ اچونې په برخه کې ۹ ویکټې ترلاسه کړي وې، چې له امله یې د یادو سیالیو تر ټولو غوره لوبغاړی ونومول شو. کریم د توپوهنې په برخه کې یوه پاټۍ کې زیاتې ۸۵ منډې د سپین غر زون پر وړاندې او د توپ اچونې په برخه کې یوه لوبه کې تر ټولو زیاتې ویکټې ۱۸/۲ د مس عینک زون لوبډلې پر وړاندې په خپل نوم کړي وې.



## غوره ویکټ ساتونکی




د ویکټ ساتنې په برخه کې هم د امو زون ویکټ ساتونکی محمد اسحاق تر ټولو مخکښ و، چې په ٦ لوبو کې یې د ۱۰ ویکټو په ترلاسه کولو کې یې د خپلو توپ اچوونکو سره مرسته کړې وه. اسحاق ټول ۸ کیچونه ترلاسه کړي او ۲ یې ستمپونه ترسره کړي وه. نوموړي دغه راز په یوه پاټۍ کې یات ۳ کېچونه نیولي وه.

## د سیالیو ځوان لوبغاړی



د مس عینک زون لوبډلې ځوان پیلیز توپوهونکي خالد تڼیوال په نهم پړاو لیسټ اې یو ورځنیو سیالیو کې د تر ټولو ځوان لوبغاړي لقب په خبل نوم کړ. نوموړی چې یوازې ٦ لوبو کې ولوبېده د ۹۰ سټرایک ریټ او ۵۹ اوسط سره یې ۳۵۷ منډې جوړې کړې. د خالد په توپوهنه کې ۲ سلیزې او ۱ نیمه سلیزه هم شامله وه.

## مـــالي مـــلاتـــړي

د افغانستان کرکټ بورډ د نهم پړاو لېسټ اي يو ورځنيو سياليو لپاره له ګڼ شمېر کمپنيو او شرکتونو سره د مالي ملاتړو په توګه تړونونه لاسليک کړي وه. په دغه سياليو کې اتصالات مخابراتي شرکت د عمومي ملاتړي حقوق ترلاسه کړي وه. دغه راز سوپر کولا ملي شرکت بيا د مرستيال مالي ملاتړ کوونکي حقوق په خپل نوم کړي وه. په نورو برخو کې بيا شفا عظيم روغتون د روغتيا برخې همکار، وينې د لباس برخې همکار او افغان ټيلي کام د مالوماتي ټکنالوژۍ برخې د همکار په توګه له افغانستان کرکټ بورډ سره تړونونه کړي وه.

## پروډکشن او رسنيز حقوق

د ۲۰۲۶م کال زونونو په کچه لېسټ اې نهم پړاو يو ورځنۍ سيالۍ په ژوندۍ بڼه خپرې شوې، چې د هېواد په داخل او بهر کې د مينه والو د تود هرکلي سره مخ شوې. د افغانستان کرکټ بورډ د رسنيو او مطبوعاتو څانګې د ادارې له نورو اړوند څانګو سره د ګډې همغږۍ په ترڅ کې له ګڼ شمېر پروډکشن کمپنيو سره اوږدې خبرې اترې وکړې چې په پايله کې يې د افغانستان له ملي راډيو تلويزيون سره د يادو سياليو د توليد او رسنيز حقوق تړون وکړ چې له مخې يې دغه سيالۍ په ۱۵ کامرو توليد او په ژوندۍ بڼه نشر کړې.

## د سياليو رسمي خپروونکي چېنلونه




د زونونو په کچه د لېست اې نهم پړاو يو ورځنۍ سيالۍ دا ځل هم د ملي ټلويزيون پر پرده د هېواد په داخل کې په ژوندۍ بڼه خپرې شوې. د دې تر څنګ يادې سيالۍ د افغانستان کرکټ بورډ پر يوټيوب چېنل، اتصالات مخابراتي شرکت پر ويب پاڼې او په هند کې د فن کوډ له لارې خپرې شوې.

## ټولنيزو رسنيو کې رسنيز پوښښ

د تلويزيون او نورو ژوندي نشراتو خپروونکو چينلونو تر څنګ د افغانستان کرکټ بورډ رسنيو څانګې په ټولنيزو رسنيو کې هم د پام وړ فعاليت درلود، چې د کرکټ مينه وال يې وخت پر وخت د سياليو له تازه پېښو، د لوبغاړو د تازه انځورونو او ښکلو ويډيوګانو څخه برخمن کړي و. په دغه رسنيز پوښښ کې د لوبو له پيل وړاندې او د لوبو په لړ کې د لوبغاړو، روزونکو، اړوند مسوولينو او مينه والو سره وخت پر وخت مرکې او تر څنګ يې د لوبغاړو د فردي کارګردګيو ښکلي او لنډې ويډيوګانې اخيستل شامل وه. د افغانستان کرکټ بورډ رسنيو څانګه چې پر فيسبوک، انسټګرام، ټويټر او يوټيوب کې ميليونونه څارونکي لري، په دغه سياليو کې يې هم د پام وړ ليدونکي درلودل. په پای کې د يادونې وړ ده چې دغو سياليو ته د هېواد له بېلابېلو ځايونو د کرکټ ګڼ شمېر مينه وال راغلي وو او له دغه سياليو يې له شک پرته ډېر خوند واخيست. دا چې په دغو سياليو کې د ملي لوبډلې لوبغاړو هم ګډون درلود، نو په همدې اساس ورته ګڼ شمېر مينه وال هم راتلل او دغه راز مليونونه هېوادوالو د تلويزيون په پردې په ژوندۍ بڼه ننداره کړې.









# کندهار کرکټ لوبغالي کې د دوو رغنيزو پروژو چارې پيل شوې



د افغانستان کرکټ بورډ د انجنیرۍ څانګې د کندهار په کرکټ لوبغالي کې دوه نوې پروژې پیل کړې چې پکې د لوبغالي د احاطوي دېوال جوړول او د پویلین د تعمیر عصري بیارغونه شامل دي. یادې پروژې د شا وخوا ۱۲ میلیون افغانیو په لګښت ترسره کېږي چې په نږدې ٦ میاشتو کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې تېرو کلونو کې هم په کندهار کرکټ لوبغالي کې ورته پروژې ترسره شوې چې پکې ۲۰۲۳ کال کې د اکاډمۍ رغونه او ۲۰۲۵ کال کې یې پراختیا چې ویشتنځایونه پکې له څلورو څخه اتو ویشتنځایونو ته لوړ شول، د لباس بدلولو خونې او تشنابونو جوړول، د میلمستون بیارغول او د کندهار د یو ملي سوداګر له لوري د مسجد جوړول چې کارونه به یې لنډ وخت کې پوره شي، شامل وو. باید وویل شي چې افغانستان کرکټ بورډ په پلان کې لري چې د کابل نړیوال کرکټ کمپلکس ترڅنګ په څلورو زونونو کې یو-یو میدان نړیوالې کچې او معیار ته ورسوي چې دا چارې په تدریجي ډول پر مخ روانې دي.






# د افغانستان کرکټ بورډ یوه ټاکلي پلاوي چین ته سفروکړ



د افغانستان کرکټ بورډ ټاکلي پلاوي چې یوه روزونکي او ۴ لوبغاړو پکې ګډون درلود، د کرکټ د تخنیکي همکاریو او ترویج په موخه چین هېواد ته سفر وکړ.

افغانستان کرکټ بورډ د ورزشي ډیپلوماسۍ، د کرکټ د ترویج او تخنیکي همکاریو په موخه د چین دولت په رسمي بلنه دغه پلاوی چې د کرکټ ملي روزونکی نوروز منګل او د کرکټ څلور لوبغاړي (قیس احمد، ظاهرخان پکتین، فیصل شینوزاده او واحدالله ځدراڼ) پکې شامل دي؛ یاد هېواد ته ولېږه.

د افغانستان کرکټ بورډ اجراییوي رییس ښاغلي نصیب خان له تګ وړاندې له یاد پلاوي سره وکتل او خپل پیغام یې ورسره شریک کړ. د ښاغلي نصیب خان په وینا، افغانستان د کرکټ پراختیا او پرمختیا ته ډېر لېواله او ژمن دی چې له دې وړاندې هم افغانستان کرکټ بورډ له ازبکستان هېواد سره د کرکټ د پراختیا په ډګر کې هوکړه لیک، لاسلیک کړی دی.

ښاغلي نصیب خان په دغه ناسته کې زیاته کړه، چین له شک پرته د صنعت او له افغانستان سره په نورو سوداګریزو برخو کې ډېر ښکېل دی، هیله ده دواړه هېوادونه د کرکټ په ډګر کې هم ښکېل واوسي او خپلې تجربې سره شریکې کړي چې دغه چاره به د دواړو هېوادونو ترمنځ پر اړیکو لا ډېر مثبت اغېز پرېباسي.

هېره دې نه وي چې افغان پلاوی به په دغه سفر کې په ټولنه کې د کرکټ پر ښکېلتیا، مثبتې بوختیا او پرمختیا خبرې وکړي او دغه راز په ځینو ورکشاپونو کې هم ګډون وکړي چې سربېره







پر دې به د کرکټ په یوه لوبه کې هم چې د یاد هېواد د کرکټ د مسوولینو له لوري به د پلان له مخې تنظیمېږي؛ ګډون وکړي. دغه راز به د کرکټ افغان پلاوی په دغه سفر کې د ورزشي ټکنالوژۍ په اړه تنظیم شویو نندارتونونو کې هم ګډون وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې افغانستان کرکټ بورډ تېر کال د ازبکستان له کرکټ اتحادیې سره هم د کرکټ د پرمختیا، تخنیکي تجربو د شریکولو، د کرکټ د پرمختګ او بېلابېلو ورکشاپونو د ترسراوي تړون لاسلیک کړی دی.







## د افغانستان کرکټ بورډ له لوري په خوست کې د ۱۹ کلنو کم عمره ملي لوبډلې د غوراوي پروسې سیالۍ پیل شوې



د افغانستان کرکټ بورډ له لوري د خوست په رحمت ولي مسرور کرکټ لوبغالي کې د ۱۹ کلنو ملي لوبډلې لپاره د ۱۹ کلنو لوبغاړو د غوراوي د پروسې خپلمنځي سیالۍ پیل شوې. دغه پروسه د تېرې مې میاشتې په ۱۷مه پیل شوه چې د همدې میاشتې تر ۲۵مې نېټې یې دوام وکړ او دویمه برخه یې د جون میاشتې له لومړۍ نېټې تر ۱۴ نېټې ترسره شوه.
دغو سیالیو کې د کورني کرکټ د دویمې او لومړۍ درجې ولایتي لوبو او د چټکې توپ اچونې په برخه کې د ازادې سیالۍ د موندل شویو لوبغاړو په ګډون په ټوله کې ٦۴ پیاوړي او ځلېدلي لوبغاړي ګډون لري چې په ۴ لوبډلو وېشل شوي دي. په یاده لړۍ کې ټولې ۱٦ لوبې ترسره شوې چې هره لوبډلې پکې اته سیالۍ ترسره کړې.
د یادونې وړ ده چې دغه پروسه د روزنیزې ډلګۍ او د غوراوي کمېټې غړو له لوري له نږدې وڅارل شوه چې په پای کې ترې له ۳۰ ۳۵- غوره لوبغاړي د چمتووالي د راتلونکو کمپونو لپاره غوره شول.
















## بست زون لوبډلې د امید وطن ملي شل اوریزه سیالیو

# اتلولي وګټله

**وخت او ځای:**

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې د کلني مهالوېش سره سم د امید وطن ملي شل اوریزه سیالۍ د بست زون لوبډلې په اتلولۍ سره پای ته ورسېدې. دغه سیالۍ چې د هېواد په شمال ختیځ ولایت کندز کې ترسره شوې، په پایلوبه کې یې بست زون لوبډلې د مس عینک زون لوبډلې ته ماتې ورکړه.

# د لوبډلو جوړښت

د امید وطن ملي شل اوریزه سیالیو په دریم پړاو کې ټول هغه ځوان لوبغاړي شامل وو چې د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي شل اوریزه سیالیو کې یې غوره کارکردګي کړې وه. دغه راز په یادو پنځو لوبډلو کې د ځوان لوبغاړو تر څنګ د ملي، الف او نولس کلنو لوبډلو هغه لوبغاړي هم شامل وو چې په تېره شپږیزه لیګ سیالیو کې یې د پام وړ کارکردګي نه درلوده. د امید وطن ملي شل اوریزه سیالۍ چې په خورا شور او ولولو سره ترسره شوې، ټول ځلېدلي لوبغاړي به یې په راتلونکي پړاو شپږیزه کرکټ لیګ کې د لوبېدو وياړ ترلاسه کړي.















# د لوبډلو شمېر او د لوبو څرنګوالی

د امید وطن ملي شل اوریزه سیالیو په دریم پړاو کې ټول هغه ځوان لوبغاړي شامل وو چې د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي شل اوریزه سیالیو کې يې غوره کارکردګي کړې وه. دغه راز په یادو پنځو لوبډلو کې د ځوان لوبغاړو تر څنګ د ملي، الف او نولس کلنو لوبډلو هغه لوبغاړي هم شامل وو چې په تېره شپږيزه لیګ سیالیو کې يې د پام وړ کارکردګي نه درلوده. د امید وطن ملي شل اوریزه سیالۍ چې په خورا شور او ولولو سره ترسره شوې، ټول ځلېدلي لوبغاړي به يې په راتلونکي پړاو شپږيزه کرکټ لیګ کې د لوبېدو وياړ ترلاسه کړي.






# ترټولو ډېرې منډې

د بست زون لوبډلې ځوان پیلیز توپوهونکی نعمان شاه په دغه لوبو کې تر ټولو مخکښ منډه جوړوونکی و. نوموړي ټولټال ۹ لوبې ترسره کړې، چې په ۵۷،۵۷ اوسط او ۱۶۱،۲۰ سټرایک رېټ سره يې د ۲ نیمه سلیزو او یوې سلیزې پر مټ ۴۰۳ منډې جوړې کړې. نعمان شاه په یوه سیالۍ کې تر ټولو زیاتې ۱۱۹ ناسوځېدلي منډې د مس عینک زون لوبډلې پر وړاندې جوړې کړې وې.



## په یوه پانه کې زیاتې منډې

د بست لوبډلې یاد ځوان نعمان شاه چې په پایلوبه کې یې خپله لوبډله تر اتلولۍ ورسوله، په یوه پانۍ کې یې تر ټولو زیاتې منډې هم په خپل نوم ثبت کړې. نعمان شاه په پایلوبه کې د مس عینک پر وړاندې په ۵٦ کمو توپونو د ۸ شپږیزو او ۱۳ څلوریزو پر مټ ۱۱۹ ناسوځېدلې منډې ترلاسه کړې. هغه دغه راز په ګروپي پړاو کې هم د مس عینک لوبډلې پر وړاندې ۹۴ منډې جوړې کړې وې.



## د لوبډلې لخوا یوه پانه کې ډېرې منډې

د امید وطن ملي شل اوریزه سیالیو په دریم پړاو کې بست لوبډلې په یوې پانۍ کې تر ټولو د زیاتو منډو جوړولو کارنامه یا ریکارډ په خپل نوم کړ. دوی پایلوبه کې وتوانېدل چې د مس عینک لوبډلې د ۲۱۱ منډو ځواب کې ۲۱۷ منډې جوړې کړي او دغه کارنامه په خپل نوم کړي. په پایلوبه کې بست لوبډلې د مس عینک لوبډلې د ۲۱۲ منډو هدف د لوبې په ۱۸ اورونو کې د ۵ ویکټو په تاوان ترلاسه کړ او اتلولي یې وګټله.



## ترټولو اوږده ملګرتیا

د مس عینک زون دوو ځوان توپوهونکو خالد تنیوال او اصغر اتل په امید وطن ملي شل اوریزه سیالیو کې تر ټولو د اوږدې ملګرتیا کارنامه په خپل نوم کړه. دوی د امو لوبډلې پر وړاندې لوبه کې په ګډه ۱۳۹ منډې جوړې کړې. په دغه ملګرتیا کې اصغر اتل په ۴۶ توپونو ۷۰ او خالد تنیوال په ۳۵ توپونو ۶۵ منډې جوړې کړې وې.





## ترټولو ډېرې ویکټې

د بندامیر زون لوبډلې ځوان لیګ بریکر اظهارالحق نوید په یادو سیالیو کې د تر ټولو مخکښ توپ اچوونکي مقام په خپل نوم کړ. نوموړي په دغو سیالیو کې ۸ لوبې ترسره کړې، چې د ۶.۹۰ اوسط سره یې ۱۴ لوبغاړي د لوبې له ډګره بهر کړل. نوید په یوه لوبه کې د ۱۴ منډو په بدل کې د ۲ ویکټو په ترلاسه کولو سره خپل غوره توپ اچونه ثبت کړه.





## یوه پاڼۍ کې ترټولو زیاتې ویکټې



په یوه لوبه کې د غوره توپ اچونې  کارنامه بیا د امو زون لوبډلې چپ لاسي ورو توپ اچوونکي روح الله عرب په خپل نوم کړه. عرب دغه غوره توپ اچونه د مې میاشتې پر ۵مه د مس عینک زون لوبډلې پر وړاندې لوبه کې ترلاسه کړه. نوموړي د ۳.۵ اوړونو په ترسره کولو سره یوازې ۲۹ منډې ورکړې او ۵ لوبغاړي یې د لوبې له ډګره بهر کړل

## زیات کیچونه

د امید وطن ملي شل اوریزه سیالیو په دریم پړاو کې د زیاتو کیچونو ترلاسه کولو ویاړ د سپین غر زون لوبډلې لوبغاړي اکبر موسی زي ترلاسه کړ. اکبر چې د خپلې لوبډلې په ګټه په ۸ لوبو کې ولوبېده، ۷ کیچونه یې ونیول چې د خپلې لوبډلې په بریاوو کې یې د پام وړ ونډه درلوده. اکبر د امو زون لوبډلې پر وړاندې یوه لوبه کې ۳ کیچونه نیولې وو.



## د سیالیو غوره لوبغاړی



د بست زون لوبډلې ځوان الراونډر امیر حمزه چې په لومړي ځل یې د امید وطن ملي شل اوریزه سیالیو کې د لوبېدو ویاړ درلود، د ۱۰۱ منډو او ۵ ویکټو په ترلاسه کولو سره د سیالیو تر ټولو غوره لوبغاړی ونومول شو. حمزه د خپلې لوبډلې په ګټه ٦ لوبو کې توپوهنه ترسره کړه چې په ۱۸۷ لوړ سټرایک ریټ سره یې د خپلې لوبډلې بریاوو کې مهم رول ادا کړ. نوموړي همدا راز ۷ سیالیو کې توپ اچونه وکړه او د ۵۴ منډو بدل کې یې د ۲ ویکټو ترلاسه کول غوره توپ اچونه وه.

## مخکښ ویکټ اخیستونکی



د مس عینک زون لوبډلې ویکټ ساتونکی محبوب تسکین په امید وطن ملي شل اوریزه سیالیو کې غوره ویکټ ساتونکی و. هغه یادو سیالیو کې ټولټال د ۵ ویکټو په ترلاسه کولو کې مرسته کړې وه، چې د ۳ کیچونه او ۲ سټمپونه پکې شامل وه. د محبوب له لوري په یوه لوبه کې د بندامیر زون لوبډلې پر وړاندې د ۲ کیچونو ترلاسه کول غوره ویکټ ساتنه وه.



## د سیالیو ځوان لوبغاړی



د مس عینک زون لوبډلې توپوهونکی کرامت الله د ۱۸۴ منډو په جوړولو سره د سیالیو د تر ټولو ځوان لوبغاړي لقب خپل کړ. نوموړی د خپلې لوبډلې په ګټه په ۹ لوبو کې ولوبېده چې په ۲٦ اوسط او ۱۳۱ سټرایک ریټ سره یې یادې منډې ترلاسه کړې وې. کرامت په یوه لوبه کې د مس عینک په ګټه لوړې ۴۴ منډې جوړې کړې وې.

## مالي ملاتړي

د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲٦م کال دریم پړاو امید وطن ملي شل اوریزو سیالیو لپاره له ګڼ شمېر مالي ملاتړ کوونکو کمپنیو سره تړونونه لاسلیک کړل. د اتصالات مخابراتي شرکت ته د یادو سیالیو د عمومي مالي ملاتړ حقوق ورکړل شوي وو. دغه راز سوپرکولا ملي شرکت ته د مرستیال مالي ملاتړ کوونکي حقوق ورکړل شوي وو. د روغتیا په برخه کې د همکارۍ حقوق امیر حاجي زاده روغتون، د لباس برخې د همکار حقوق ویني او د ټکنالوژۍ برخې د همکار حقوق بیا افغان ټیلي کام ترلاسه کړي وو.

## پروډکشن او رسنيز حقوق

د افغانستان کرکټ بورډ د امید وطن ملي شل اوريز جام ټولې ۲۱ سيالۍ په ژوندۍ بڼه خپرې شوې، چې د هېواد په داخل او له هېواده بهر کرکټ مينه والو ننداره کړې. د يادو سياليو د نشراتي توليد لپاره د افغانستان کرکټ بورډ د رسنيو او مطبوعاتو څانګې د اداري له نورو اړوند څانګو سره د ګډې همغږۍ په ترڅ کې له ګڼ شمېر پروډکشن کمپنيو سره اوږدې خبرې اترې وکړې چې په پايله کې يې د افغانستان له ملي راډيو تلويزيون سره د يادو سياليو د توليد او رسنيز حقوق تړون وکړ چې له مخې يې دغه سيالۍ په ۱۱ کامرو توليد او په ژوندۍ بڼه نشر کړې.

## د ټولنيزو رسنيو پراخ پوښښ

د افغانستان کرکټ بورډ په خپلو ټولنيزو رسنيو هم د امید وطن ملي شل اوريزو سياليو ته غوره رسنيز پوښښ ورکړ چې د سياليو له پيل وړاندې د لوبډلو د چمتووالي او تمريناتو انځورونه او ويډيوګانې، د لوبغاړو، روزونکو او اړوند تخنيکي کسانو مرکې، د يادو سياليو پرومو او نور موارد په منظم ډول نشر او يادو سياليو ته په خورا ښه توګه کمپاين وشو. دغه راز د سياليو په لړ کې د افغانستان کرکټ بورډ پر ټولنيزو رسنيو د لوبغاړو انځورونه، ويډيويي کليپونه، د غوره لوبغاړو تازه مرکې، د روزونکو مرکې او خبرې اترې هم په ښه ډول نشر شوې، چې د سياليو په رسنيز پوښښ کې يې خپل رول ادا کړ.

د افغانستان کرکټ بورډ د رسنيو څانګې دغه راز د هرې لوبې په جريان کې د لوبغاړو د غوره کارګردګيو لنډې ويډيوګانې ثبتولې او د يوټيوب او نورو ټولنيزو رسنيو له لارې يې هم مهاله خپرولې. په دغه ويډيوګانو کې د لوبغاړو سليزې، پنځوسيزې، درې او څلور ويکټې او هټريک ترسره کول هم شامل وو، چې د زيات شمېر ليدونکو د ښکېلتيا سبب شوې.

هېره دې نه وي چې افغانستان کرکټ بورډ تل هڅه کړې چې د کورني کرکټ سترې سيالۍ د تلويزيون په پرده او د ټولنيزو رسنيو له لارې د هېوادولو تر کورونو ورسوي، ترڅو د کرکټ د مينه والو مينه پرې خړوبه شي او وکولی شي چې ټ ټولو اړوند لوبغاړو د کارکردګۍ په تړاو معلومات ترلاسه کړي.

دغه راز د يادونې وړ ده چې د دغو سياليو ځلېدلي لوبغاړي به د هېواد په کچه د تر ټولو سترو شپږيزه کرکټ سياليو ته هم لاره ومومي او دلته به هم خپل مهارتونه او وړتياوې په ډاګه کړي.



## د سياليو رسمي خپروونکي چينلونه

د امید وطن ملي شل اوريزه دريم پړاو سيالۍ په افغانستان کې د افغانستان ملي راډيو تلويزيون اړوند له ملي سپورټ چېنل او د افغانستان کرکټ بورډ د يوټيوب چېنل له لارې په ژوندۍ بڼه نشر شوې. د دې ترڅنګ يادې سيالۍ د اتصالات مخابراتي شرکت پر ويبسايټ او همدا راز په هند کې د فين کوډ(Fancode)  له لارې هم په ژوندۍ بڼه نشر شوې.






etisalat and

اتصالات او نـــور

د اړیکو له نړۍ ورهاخوا

خلک لــه ډیجیټــلي
راتلونکي سره نښلوو

# د کرکټ قوانین



د افغانستان کرکټ بورډ سوداګریزې څانګې د افغان کرکټ مجلې په تېرو ګڼو کې د کرکټ د قوانینو په اړه د عامه پوهاوي د اړتیا له مخې د یادو قوانینو د پښتو ژباړې لړی پیل کړه. له دې وړاندې د دغې مجلې په تېرو ګڼو کې د قوانینو سریزه، لومړی او دویم قانون خپاره شوي دي. په دې ګڼه کې به د کرکټ دریم او څلورم قانون ته کتنه وکړو، چې د سکوررانو پر دندو، او دغه راز د کرکټ پر توپ یا بال بحث کوي.



## د کرکټ دریم قانون: سکورران – منډې شمېرونکي

### د سکوررانو ګومارنه

د منډو، ویکټو او اورونو د شمېرلو او ثبتولو لپاره باید همېشه دوه منډې شمېرونکي یا سکورران وګومارل شي.

### د منډو موازنه یا سمون

سکورران باید وخت په وخت خپل حسابونه له یو بل سره وګوري ترڅو ډاډمن شي چې یو شان دي. دغه راز دوی مکلف دي چې د اوبو له وقفې پرته، په بله هره رسمي وقفه او د لوبې په پای کې خپل سکور له لوبڅارانو سره هم موازنه او تایید کړي.

### د لوبڅارانو د اشارې ترلاسه کول

سکورران باید د لوبڅار تولو لارښوونو او اشارو ته پوره متوجه واوسي. د اشارو په ترلاسه کولو سره سمدلاسه په ځوابي اشارې سره لوبڅار ته وښيي چې اشاره يې ترلاسه کړې او ثبت کړې ده.



# د کرکټ څلورم قانون: توپ (بال)

## د توپ وزن او اندازه



نوی توپ باید د لوبغاړو د کټګورۍ له مخې په لاندې ځانګړتیاوو برابر وي:

## د نارینه‌وو کرکټ

وزن: له ۱۵۵.۹ څخه تر ۱۶۳ ګرامه پورې اندازه: له ۲۲.۴ څخه ۲۲.۹ سانتي مترو پورې

## د ښځینه لوبغاړو کرکټ

وزن: له ۱۴۰ څخه تر ۱۵۱ ګرامه پورې

اندازه: له ۲۱ څخه تر ۲۲.۵ سانتي مترو پورې

## د تنکیو ځوانانو (تر ۱۳ کلنو کم عمره لوبغاړو) کرکټ

وزن: له ۱۳۳ څخه تر ۱۴۴ ګرامه پورې

اندازه: له ۲۰.۵ څخه ۲۲ سانتي مترو پورې



## د توپ تایید او څارنه

لوبه کې چې کوم توپونه کارول کېږي، باید د لوبڅارانو له لوري وکتل شي. دا توپونه باید له ټاس یا د لوبې له پیل وړاندې له لوبڅار سره وي او د لوبې تر پایه د هغوی تر مستقیمې څارنې لاندې وساتل شي. لوبڅاران باید د هرې ویکټې په لوېدو سره بال په خپل واک کې واخلي. دغه راز د هرې وقفې په پیل او د هر ځنډ او ځنډ پرمهال باید بال له ځان سره وساتي.

## د نوي بال د اخیستلو قوانین

لوبډلمشران کولی شي چې د هرې پاٻنۍ په پیل کې د نوي بال غوښتنه وکړي. په څو ورځنیو (ټېسټ – فرسټ کلاس – درې ورځنیو) سیالیو کې د ډګرساتنې لوبډلې مشر کولی شي چې د ۸۰ اورونو له بشپړېدو وروسته د نوي بال غوښتنه وکړي. کله چې نوی بال واخیستل شي، لوبڅار باید توپوهونکي، سکوران او بل لوبڅار خبر کړي.

## د بال ورکېدل یا خرابېدل

که بال ورک شي او یا لوبڅاران په دې متفق شي چې بال خراب شوی او نور د لوبېدو وړ نه دی، نو د هماغه بال په څېر په بل زاړه بال یې بدل کړي، چې زړښت کچه یې د پخواني بال په څېر وي. لوبڅار باید د بال د بدلولو پرمهال توپوهونکي او د ډګرساتونکې لوبډلې مشر خبر کړي.



# Beyond the Boundary

## How Cricket Shapes Culture and Community

Cricket is more than a game. For millions across the world, it is a thread that weaves communities together, a mirror reflecting social change, and a language that transcends barriers of age, class, and nationality. From dusty village grounds in remote areas in Afghanistan to manicured stadiums of the world, cricket has a unique power: it shapes culture while building a sense of belonging.

The origins of cricket are often traced to 16th-century England, but its heart now beats globally. In countries like Afghanistan, India, Pakistan, Sri Lanka, and the West Indies, cricket is not just sport; it is ritual, passion, and identity. Children grow up imitating their heroes, neighborhood tournaments become epic stories, and family living rooms transform into arenas during major matches. These microcosms illustrate how cricket fosters communal ties: shared victories, collective anxieties, and moments of national pride create bonds that extend beyond the boundary rope.

Cricket also acts as a social equalizer. In rural areas, a makeshift pitch and a worn-out ball can bring together people from all walks of life. Economic background, or social status often fade into the background as the focus shifts to skill, teamwork, and fair play. In cities, community clubs and school tournaments nurture young talent while simultaneously providing a space for mentorship and friendship. These local networks are often the unsung architects of national teams, producing the stars of tomorrow while strengthening local culture.

Moreover, cricket reflects and influences societal values. Stories of perseverance on the pitch often inspire broader conversations about resilience in life. Legendary matches, dramatic comebacks, and acts of sportsmanship become part of a community's collective memory. Festivals of cricket, such as World Cups or domestic leagues, are not just sporting events; they are cultural phenomena, bringing together families, friends, and even strangers under a shared banner of excitement and anticipation.

Cricket has also adapted to the modern era without losing its cultural significance. The rise of T20 leagues has created new entertainment formats, yet they still rely on community engagement; from street cricket commentary sessions to fantasy league discussions online. Even in digital spaces, cricket sustains a sense of community, connecting diaspora populations to their roots and offering a platform for cultural exchange.



Perhaps the most powerful aspect of cricket's cultural influence is its ability to unite. Historic matches between rival nations may ignite competitive rivalries, but they also foster mutual respect, dialogue, and understanding. Cricket diplomacy has, on occasion, eased tensions between countries, proving that sport can be a conduit for peace and friendship. On the grassroots level, cricket programs in schools and NGOs empower underprivileged youth, offering life lessons in teamwork, discipline, and leadership.

In essence, cricket extends far beyond the pitch. It is a living, breathing part of cultural identity, shaping communities in ways that statistics and scores cannot fully capture. Every boundary hit, every wicket taken, and every cheer from the crowd reverberates through neighborhoods, classrooms, and households, reinforcing the idea that cricket is more than a game; it is a communal heartbeat.

As the game continues to evolve, it remains a bridge across generations and geographies. Cricket's true legacy lies not only in records and trophies but in the culture, it cultivates and the communities it strengthens. Beyond the boundary, cricket continues to be a shared story, a unifying force, and a testament to the enduring power of sport to shape human connection.



# محمد سلیم ساپی

## د افغانستان د کرکټ د چټکې توپ اچونې نوې هیله











افغان اتلانو د روان کال د جون میاشتې په لومړیو کې هند ته سفر وکړ او هلته یې د کوربه هېواد د ملي لوبډلې پر وړاندې یوه ټېسټ او درې یو ورځنۍ نړیوالې لوبې ترسره کړې. که څه هم افغان لوبډلې په دغه سفر کې خپلې ټولې لوبې کوربه لوبډلې ته وبایللې، خو د لوبډلې په ګټه یو شمېر لوبغاړو د پام وړ او غوره لوبې ترسره کړې. محمد سلیم ساپی د ګوتو په شمېر له هغو لوبغاړو څخه و چې په دغو لوبو کې یې ځانګړې ځلېدنه درلوده. نوموړی یو ځوان او تکړه ښي لاسی چټک توپ اچوونکی دی چې د هند پر وړاندې له ټېسټ لوبې مخکې یې یوازې یوه ټېسټ لوبه ترسره کړې وه، خو کومه ویکټ یې نه وه ترلاسه کړې. هغه د هند پر وړاندې په دغه لوبه کې ډېره عالي توپ اچونه وکړه او د افغانستان ترڅنګ یې د هند او نړۍ د ګڼ شمېر کرکټ مینه والو پام هم ځان ته واړاوه. افغان لوبډلې د هند پر وړاندې ټېسټ یوازینۍ لوبه کې یوازې یو ځل توپ اچونه وکړه او په همدې پاڼۍ کې یې ټولټال ۱۲۷ اورونه ترسره کړل. محمد سلیم ساپي له دغو اورونو څخه ۲۷ اورونه وکړل. نوموړي که څه هم ۱۴۰ منډې ورکړې، خو په بدل کې یې د سیالې لوبډلې ٦ لوبغاړي له ډګره بهر کړل. د دغو ٦ ویکټو په ترلاسه کولو سره نوموړی لومړنی افغان توپ اچوونکی شو چې د هند پر وړاندې یې د ټېسټ لوبې په یوه پاڼۍ کې یې پنځه یا تر پنځو زیاتې ویکټې ترلاسه کړې. همداراز، نوموړی دریم چټک او په ټوله کې شپږم افغان توپ اچوونکی شو چې د ټېسټ کرکټ په یوه پاڼۍ کې یې د پنځو ویکټو ترلاسه کولو ویاړ خپل کړ. له نوموړي وړاندې نجات مسعود او ضیاءالرحمن شریفي هغه چټک توپ اچوونکي دي چې په ټېسټ کرکټ کې یې د یوې پاڼۍ پنځه ویکټې ترلاسه کړې دي، او راشد خان، امیر حمزه هوتک او ضیاءالرحمن اکبر هغه ورو توپ اچوونکي دي چې دغه کارنامه یې په خپل نوم ثبت کړې ده. د هند پر وړاندې د محمد سلیم ساپي د توپ اچونې یوه مهمه ځانګړنه دا وه چې تر وروستیو اورونو پورې یې د توپ اچونې سرعت کم نه شو. نوموړي د سختې ګرمۍ سربېره په پوره زور او چټکتیا سره خپلې توپ اچونې ته دوام ورکړ. هغه خپل تر ټولو چټک توپ په ساعت کې د ۱۴۸.٦ کیلومتره سرعت سره وکړ، په داسې حال کې چې د هغه د توپ اچونې اوسط سرعت شاوخوا ۱۳۸ کیلومتره په ساعت کې و.

د هند پر وړاندې په ټېسټ لوبه کې افغان لوبډلې د توپوهنې په برخه کې ښه لوبه ونه کړه او په خپلو دواړو پاڼیو کې یې د هند د لومړۍ پاڼۍ منډې هم پوره نه کړې، چې له امله یې له سترې ماتې سره مخ شوه. خو د محمد سلیم ساپي غوره توپ اچونه هغه څه وه چې د افغانستان کرکټ ته یې نوې هیله ورکړه او د هېواد د چټکې توپ اچونې لپاره یې یو نوی باب پرانیست.

د دغې غوره توپ اچونې په پایله کې محمد سلیم ساپی د هند پر وړاندې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په نوملړ کې هم شامل شو. نوموړی تر دې وړاندې د یو ورځنیو سیالیو لپاره د احتیاطي لوبغاړو په ډله کې و، خو د خپلې اغېزمنې توپ اچونې پر مټ یې د لوبډلې په اصلي نوملړ کې ځای وموند او د یادې لوبلړۍ په لومړیو دوو یو ورځنیو سیالیو کې یې هم د هېواد استازیتوب وکړ.

د محمد سلیم ساپي ځلېدنه او چټکه توپ اچونه د افغانستان لپاره د دې لوبلړۍ تر ټولو مهمې لاسته راوړنې ګڼل کېدای شي. د نوموړي غوره لوبه او چټکه توپ اچونه به نه یوازې د هغه پر راتلونکي او وړتیاوو مثبت اغېز ولري، بلکې په هېواد کې به ګڼ شمېر ځوانو چټکو توپ اچوونکو ته هم الهام او انګېزه ورکړي چې دې برخې ته مخه کړي. دا چاره کولی شي د افغانستان په کرکټ کې د چټکې توپ اچونې د لا پیاوړتیا او پراختیا لپاره مهم ګام ثابت شي.

# امو زون د میرویس نیکه

## درېڅ ورځنیو سیالیو لومړی مقام ترلاسه کړ

### وخت، ځای او ګټونکې لوبډله

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ ځانګې اړوند د میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالۍ هم د کلني مهالوېش سره سم په هلمند او کندهار ولایتونو کې ترسره شوې. دغه سیالۍ د اپرېل میاشتې پر ۵مه پیل او د همدې میاشتې پر ۲۳مه د امو زون لوبډلې په اتل کېدو پای ته ورسېدې.




### د لوبډلو جوړښت

د ۲۰۲٦م کال د میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو کې سږ کال د تېر پړاو احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو هغه لوبغاړي چې کارګردګي یې د پام وړ نه وه، ګډون کړی و، څو په بیاځلي ځلېدو تر یادو فرسټ کلاس سیالیو ورسېږي. بلخوا د کورني کرکټ د تګلارې له مخې هغه ځوان لوبغاړي چې په وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي یو ورځنیو سیالیو کې ځلېدلي وو، د افغانستان کرکټ بورډ د غوراوي کمېټې له لوري ټاکل شوي وو.

### د لوبډلو شمېر او د لوبو څرنګوالی




د افغانستان د کورني کرکټ سترې میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالۍ چې د احمدشاه بابا ابدالي فرسټ کلاس سیالیو لپاره د غوره لوبغاړو د موندلو په موخه ترسره کېږي، سږ کال پکې پنځو لوبډلو د امو، بست، بندامیر، مس عینک او سپین غر زونونو څخه ګډون کړی و. په یادو سیالیو کې هرې لوبډلې څلور-څلور لوبې ترسره کړې، چې امو پکې پرته له کومې ماتې لومړی مقام خپل کړ. په دې سیالیو کې امو لوبډلې څلور لوبې ترسره کړې، چې ټولې لوبې یې بې پایلې پای ته ورسېدې، خو د ۵۹ زیاتو نمرو په ګټلو یې لومړی مقام وګاټه. بلخوا مس عینک د یوې ماتې، یوې بریا او ۲ بې پایلو لوبو سره د ۴۷ نمرو په خپلولو دویم، بست لوبډلې د یوې بریا، یوې ماتې او ۲ بې پایلو لوبو سره د ۴۵ نمرو په خپلولو دریم، بندامیر د یوې بریا، یوې ماتې او ۲ بې پایلو سره د ۴۰ نمرو په ګټلو څلورم او سپین غر لوبډلې د یوې بریا، یوې ماتې او ۲ بې پایلو لوبو سره د ۳۹ نمرو په ګټلو وروستی پنځم مقام ونیوه.

## تر ټولو ډېرې منډې

د سپین غر زون لوبډلې ځوان پیلیز توپوهونکی ارشاد الدین ساپی د سږ کال میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو تر ټولو مخکښ منډه جوړوونکی لوبغاړی و. ارشاد په یادو سیالیو کې ټولې ۴ لوبې ترسره کړې، چې د ۷ پاڼیو په لوبولو یې ۴۰۴ منډې جوړې کړې. نوموړی د ۵۷ منډو اوسط او ۷۴ سټرایک ریټ سره ولوبېده، چې توپوهنه کې یې یوه سلیزه او ۲ نیمه سلیزې شاملې وې. نوموړي دغه راز د یادو سیالیو په یوه پاڼۍ کې ۱۳۳ لوړې منډې جوړې کړې وې.

## د لوبډلو شمېر او د لوبو څرنګوالی




د افغانستان د کورني کرکټ سترې میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالۍ چې د احمدشاه بابا ابدالي فرسټ کلاس سیالیو لپاره د غوره لوبغاړو د موندلو په موخه ترسره کېږي، سږ کال پکې پنځو لوبډلو د امو، بست، بندامیر، مس عینک او سپین غر زونونو څخه ګډون کړی و. په یادو سیالیو کې هرې لوبډلې څلور-څلور لوبې ترسره کړې، چې امو پکې پرته له کومې ماتې لومړی مقام خپل کړ. په دې سیالیو کې امو لوبډلې څلور لوبې ترسره کړې، چې ټولې لوبې یې بې پایلې پای ته ورسېدې، خو د ۵۹ زیاتو نمرو په ګټلو یې لومړی مقام وګاټه. بلخوا مس عینک د یوې ماتې، یوې بریا او ۲ بې پایلو لوبو سره د ۴۷ نمرو په خپلولو دویم، بست لوبډلې د یوې بریا، یوې ماتې او ۲ بې پایلو لوبو سره د ۴۵ نمرو په خپلولو دریم، بندامیر د یوې بریا، یوې ماتې او ۲ بې پایلو سره د ۴۰ نمرو په ګټلو څلورم او سپین غر لوبډلې د یوې بریا، یوې ماتې او ۲ بې پایلو لوبو سره د ۳۹ نمرو په ګټلو وروستی پنځم مقام ونیوه.



## ډېرې سلیزې




د میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو کې دا ځل د ډېرو سلیزو جوړولو کارنامه د بندامیر زون لوبډلې د توپوهونکي محمد ریاض په نوم وه. محمد ریاض چې یادو سیالیو کې یې د خپلې لوبډلې په ګټه ۳ لوبې او ۵ پاڼۍ ولوبولې، ۲ سلیزې یې جوړې کړې. ریاض یوازینی توپوهونکی و، چې په دغه سیالیو کې ۲ سلیزې ترسره کوي.

## په یوه پاڼۍ کې تر ټولو لوړې منډې - د یوه توپوهونکي لخوا




د مس عینک زون لوبډلې توپوهونکي محبوب تسکین په یوه پاڼۍ کې د زیاتو منډو جوړولو لقب په خپل نوم کړی و. محبوب د امو زون لوبډلې پر وړاندې د لوبې په یوې پاڼۍ کې ۱٦۰ ناسوځېدلي منډې جوړې کړې وې. نوموړی چې یاده لوبه کې یې د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه هم اخیستې وه، ۲۸۳ توپونو ته دریدلی و، چې د ۱٦ څلوریزو په شمول یې د ۵٦ سټرایک ریټ سره ۱٦۰ ناسوځېدلي منډې جوړې کړې وې.

## په یوه پاڼۍ کې تر ټولو زیاتې منډې - د لوبډلې لخوا



د ۲۰۲٦م کال میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو په یوه پاڼۍ کې د تر ټولو زیاتو منډو جوړولو کارنامه د بست زون لوبډلې په نوم ثبت شوه. بست زون لوبډلې د اپرېل میاشتې پر ۹مه په کندهار کرکټ لوبغالي کې د سپین غر زون لوبډلې پر وړاندې خورا په زړه پورې توپوهنه وکړه او د ۸ ویکټو په تاوان یې ۴۲۳ منډې جوړې کړې وې. په دغه سیالۍ کې بست لوبډلې ته عزیزالله میاخېل ۱۱۰، علي احمد ۹۳، بلال احمد ٦۱ او نعمان شاه ۵٦ منډې ترسره کړې وې. د دغه لوبې په لومړۍ پاڼۍ کې هم بست زون لوبډلې ۳۱۹ منډې جوړې کړې وې.

## په یوه لوبه کې تر ټولو ډېرې منډې - د دواړو لوبډلو مجموعي منډې



د دواړو لوبډلو لخوا د تر ټولو زیاتو منډو جوړولو کارنامه هم د بست زون او سپین غر زون تر منځ لوبه کې ثبت شوه. د سپین غر او بست تر منځ دغه درې ورځنۍ لوبه کې ټولټال ۱۱۱۰ منډې جوړې شوې وې، چې لوبه یې هم بې پایلې ختمه شوې وه. یاده لوبه کې بست زون لوبډلې خپلې لومړۍ پاینۍ کې ۳۱۹ او دویمه پاینۍ کې ۴۲۳ منډې جوړې کړې وې. بلخوا بیا سپین غر زون لوبډلې یوازې یوه پاینۍ لوبولې وه او ۳۶۸ منډې یې پکې ترسره کړې وې.

## په یوه پاینۍ کې تر ټولو ډېرې ویکټې - د یوه توپ اچوونکي لخوا



په میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو کې د مس عینک زون لوبډلې ورو توپ اچوونکي محمدالله لوګړي یوه پاینۍ کې د زیاتو ویکټو ترلاسه کولو کارنامه هم په خپل نوم کړې وه. لوګړي د بست زون لوبډلې پر وړاندې لوبه کې چې په کندهار کرکټ لوبغالي کې د اپریل میاشتې پر ۱۳مه ترسره شوه، د ۱۶ منډو بدل کې ۹ زیاتې ویکټې ترلاسه کړې وې. دغه پاینۍ کې لوګړي د ۱۵ اوورونو په ترسره کولو د ۱.۰۶ اقتصادي توپ اچونې سره ۹ لوبغاړي د لوبې له ډګره بهر کړل. باید ووېل شي چې نوموړي د یادې لوبې په لومړۍ پاینۍ کې هم ۴ ویکټې ترلاسه کړې وې، چې په ټوله کې یې دغه لوبه کې د ۱۳ ویکټو په ترلاسه کولو د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

## تر ټولو ډېر کیچونه



د ډېرو کیچونو ترلاسه کولو کارنامه بیا د مس عینک زون لوبډلې الراونډر نصیرالله په خپل نوم ثبت کړه. نصیر په میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو کې ۴ لوبې ترسر کړې او ټول یې په ۷ پاینو کې ۹ کیچونه ونیول. نصیر د بست زون لوبډلې پر وړاندې لوبه چې په کندهار کرکټ لوبغالي کې ترسره شوه، لومړۍ پاینۍ کې یو او دویمه پاینۍ کې ۴ کیچونه ونیول.



## تر ټولو لوړه ملګرتیا



په سر کال میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو کې تر ټولو اوږده ملګرتیا د بند امیر زون لوبډلې توپوهونکو نقیب الله احساس او محمد ریاض ترسره کړې وه. ریاض او احساس د امو زون پر وړاندې لوبه کې چې د اپریل میاشتې پر ۲۱مه په هلمند کرکټ لوبغالي کې ترسره شوه، د ۲۵۷ منډو تر ټولو اوږده ملګرتیا وکړه. د ریاض او نقیب په ملګرتیا کې ۱۰۹ منډې محمد ریاض او ۱۴۱ منډې نقیب الله احساس جوړې کړې. باید ووېل شي چې د یادو سیالیو دویمه اوږده ملګرتیا هم د بند امیر زون لوبډلې د توپوهونکو محمد ریاض او خالد احمدزي تر منځ شوې وه. دوی دواړو په ګډه ۲۳۳ منډې ترسره کړې وې.

## تر ټولو ډېرې ویکټې



د مس عینک زون لوبډلې چپ لاسي ورو توپ اچوونکي محمدالله لوګړي په سر کال میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو کې د زیاتو ۲۲ ویکټو ترلاسه کولو کارنامه په خپل نوم کړه. محمدالله د خپلې لوبډلې په ګټه ۴ لوبو کې لوبېدلو او ۷ پاینیو کې د توپ اچونې په کولو یې ۲۲ ویکټې ترلاسه کړې. لوګړي په دوه لوبو کې څلور-څلور او یوه لوبه کې ۵ ویکټې ترلاسه کړې وې. باید ووېل شي چې نوموړي یوې پاینۍ کې خپل تر ټولو غوره توپ اچونه د ۱۶ منډو په بدل کې د ۹ ویکټو په ترلاسه کولو ثبت کړې وه.

## تر ټولو غوره لوبغاړی



د میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو کې د تر ټولو غوره لوبغاړي جایزه یونس ترلاسه کړه. یونس دغو سیالیو کې ۷ ویکټې ترلاسه کړې وې او پ توپوهنه کې یې ۳۶۳ منډې جوړې کړې وې. هغه دغه راز د ۴ لوبو په ٦ پاینیو کې د توپوهنې فرصت خپل کړ چې د ۴ نیمه سیلیزو او یوې سلیزې پر مټ یې په ۹۰ منډو اوسط سره ۳۶۳ منډې ترسره کړې. د توپ اچونې په برخه کې یونس په ۷ پاینیو کې توپ اچونه وکړه او د ۳۰ منډو په بدل کې د ۳ ویکټو غوره توپ اچونې ترڅنګ ټولټال ۷ ویکټې ترلاسه کړې.

## مخکښ ویکټ ساتونکی




د سپین غر زون لوبډلې ویکټ ساتونکی توپوهونکی مجید عالم د ۲۰۲٦م کال میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو د تر ټولو غوره ویکټ ساتونکي لقب خپل کړ. عالم په ۴ لوبو کې د لوبېدو فرصت ترلاسه کړ او په ۷ پاڼیو کې یې له ویکټ ساتنې وروسته ۷ کېچونه او ۲ سټمپونه کړي و. نوموړي په یوه پاڼۍ کې تر ټولو ډېر د ۳ ویکټو په ترلاسه کولو کې مرسته کړې وه.

## د ټولنیزو رسنیو پراخ پوښښ

افغانستان کرکټ بورډ په خپلو ټولنیزو رسنیو کې هم یادو سیالیو ته غوره رسنیز پوښښ ورکړ چې د سیالیو له پیل وړاندې د لوبډلو د چمتووالي او تمریناتو انځورونه او ویډیوګانې، د لوبغاړو، روزونکو او اړوند تخنیکي کسانو مرکې پر ټولنیزو رسنیو خپرې شوې دي. دغه راز د سیالیو په لړ کې د لوبغاړو انځورونه، ویډیویي کلیپونه، د غوره لوبغاړو تازه مرکې او د روزونکو مرکې هم نشر شوې دي. سربېره پر دې د هر لوبغاړي د غوره کارکردګۍ جلا ویډیویي کلیپونه چې پکې پنځوسیزې، سلیزې او له درې-څلورو ډېرې ویکټې اخیستونکي لوبغاړي شامل وو، هم په منظمه او هم مهالي توګه د افغانستان کرکټ بورډ د یوټیوب چینل له لارې نشر شوي چې د لیدونکو له پراخ هرکلي سره مخ شول. سربېره پر دې نور ډېر موارد و چې د افغانستان کرکټ بورډ د ټولنیزو رسنیو او یوټیوب چېنل له لارې خپاره شول چې د لوبغاړو ته د کمپاین سربېره پکې د کرکټ مینه والو ته هم د پام وړ محتواوې وړاندې شوې او خلکو ترې هرکلی وکړ.






# بست زون د نجیب الله تره کي معلولینو شل اوریزه سیالیو اتلولي خپله کړه

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې د کلني مهالوېش سره سم د زونونو په کچه د نجیب الله تره کي معلولینو شل اوریزه سیالۍ چې هر کال یې دوه پړاوه ترسره کېږي، د ۱۵م پړاو سیالیو اتلولي یې بست زون لوبډلې وګټله او له خپلې تېرې اتلولۍ یې دفاع وکړه. بست لوبډلې له دې وړاندې د ۱۴م پړاو د اتلولۍ جام هم په خپل نوم ثبت کړی و.

د زونونو په کچه د نجیب الله تره کي معلولینو ملي شل اوریزه سیالۍ چې د اپرېل میاشتې پر ۲۷مه نېټه په کندهار کرکټ لوبغالي کې پیل شوې وې، د مې میاشتې پر ۴مه د بست زون لوبډلې په اتلولۍ سره پای ته ورسېدې. بست زون لوبډلې په پایلوبه کې د امو زون لوبډلې ته د ٦ ویکټو په توپیر سره ماتې ورکړه او یاده اتلولي یې ترلاسه کړه.






## د لوبډلو شمېر او د لوبو څرنګوالی

د زونونو په کچه د نجیب الله تره کي معلولینو شل اوریزه سیالیو ۱۵م پړاو کې هر کال د هېواد د پنځو زونونو لوبډلې برخه لري، چې ځلېدونکي لوبغاړي یې د افغانستان کرکټ بورډ سره شپږ میاشتنی قرارداد ترلاسه کوي. په دغه مهم پړاو کې هم هرې لوبډلې څلور لوبې ترسره کړې، چې له مخې یې د بست او امو زونونو لوبډلو پایلوبې ته لار موندله.

د نمرو له مخې بست او امو لوبډلو په درېو-درېو بریاوو لومړی او دویم، بند امیر په دوه بریاوو دریم، مس عینک او سپین غر په یوې-یوې بریا څلورم او پنځم مقام ترلاسه کړی و.



## د لوبډلو جوړښت

د افغانستان کرکټ بورډ چې په تل يې په هېواد کې د کرکټ لوبې ودې او پر مختګ ته لومړيتوب ورکړی، په ورته وخت کې يې د هېواد هغه معلوله طبقې ته چې د کرکټ لوبې سره مينه او پکې وړتيا لري، د لوبو کولو زمينه برابره کړې، چې هم په کور دننه لوبو کې ولوبيږي او هم تر ملي لوبډلې ورسيږي.




## تر ټولو ډېرې منډې



د امو زون لوبډلې پيليز توپوهونکی سين الله غفور په يادو سياليو کې تر ټولو مخکښ منډه جوړونکی و. نوموړي چې د خپلې لوبډلې په ګټه يې څلور لوبې ترسره کړې، ۲۰۰ منډې يې په ۱۰۰ اوسط او ۱۹۸ سټرايک ريټ سره جوړې کړې. سين الله په يوه لوبه کې خپلې لوړې منډې د سپين غر زون لوبډلې پر وړاندې د ۴۰ توپونو په لوبولو ۱۰۷ ناسوځېدلې منډې ثبت کړې.

## په يوه پاڼۍ کې زياتې منډې



د نجيب الله تره کي معلولينو شل اوريزه سياليو په دغه پړاو کې د امو زون توپوهونکی سين الله غفور بيا هم په يوه پاڼۍ کې د زياتو منډو جوړولو په برخه کې تر نورو مخکې و. غفور د سپين غر زون لوبډلې پر وړاندې لوبه ک يوازې په ۴۰ توپونو ۱۰۷ منډې جوړې کړې. دغه لوبه کې نوموړی د ۲٦۷ سټرايک ريټ سره لوبېدلی و، چې توپوهنه کې يې ۱۱ شپږيزې او ۷ څلوريزې شاملې وې. بايد وويل شي چې سين الله يوازينی توپوهونکی و چې د زونونو په کچه نجيب الله تره کي معلولينو شل اوريزو سياليو کې يې سليزه جوړه کړې وه.

## په یوه پاڼۍ کې زیاتې منډې د لوبډلې لخوا

د زونونو په کچه د نجیب الله تره کي معلولینو شل اوریزه سیالیو په ۱۵م پړاو کې بست زون لوبډلې یوه پاڼۍ کې د زیاتو منډو جوړولو کارنامه په خپل نوم ثبت کړه. یادې لوبډلې د امو زون لوبډلې پر وړاندې لوبه کې د قدرت الله او منیراحمد د غوره توپوهنې پر مټ کارنامه جوړه کړه، چې په ټاکل شویو ۲۰ اوورونو کې یې یوازې د ۳ ویکټو په تاوان ۲۰۲ منډې ترسره کړې وې.



## تر ټولو ډېرې ویکټې

د زیاتو ویکټو ترلاسه کولو کارنامه بیا د بست زون لوبډلې چټک توپ اچوونکي عنایت الله په خپل نوم ثبت کړه. نوموړي چې د خپلې لوبډلې په ګټه یې ۵ لوبو کې توپ اچونه وکړه، ۱۲ لوبغاړي یې د لوبې له ډګره بهر کړل. د عنایت په اوسط ۱۰ او ٦ منډو اقتصادي توپ اچونې سره دغه کارنامه جوړه کړې وه. عنایت الله خپله غوره توپ اچونه د بندامیر زون لوبډلې پر وړاندې ترسره کړې وه، چې د ۱٦ منډو په بدل کې یې ۴ ویکټې ترلاسه کړې وې.



## په یوه پاڼۍ کې تر ټولو ډېرې ویکټې

په یوه لوبه کې د زیاتو ویکټو ترلاسه کولو وياړ بیا د بست زون لوبډلې د الراوندر منیراحمد په نوم و. نوموړي د امو زون لوبډلې پر وړاندې د یادو سیالیو پایلوبه کې غوره توپ اچونه وکړه او ۴ ویکټې یې ترلاسه کړې. منیر په پایلوبه کې ۴ اوورونه توپ اچونه ترسره کړه او د ۱۳ کمو منډو په بدل کې یې ۴ ویکټې ترلاسه کړې، چې د زونونو په کچه د نجیب الله تره کي معلولینو شل اوریزو سیالیو غوره توپ اچونه ثبت شوه.



## تر ټولو زیات کیچونه

د بست زون لوبډلمشر قدرت الله په دغه سیالیو کې د زیاتو کیچونو نیولو کارنامه په خپل نوم کړې ده. قدرت الله چې د بست لوبډلې په اتلولۍ کې یې خورا مهم رول درلود د ښې توپوهنې تر څنګ یې په ډګر ساتنه کې هم کارګرګي ښکاره وه. نوموړي د خپلې لوبډلې په ګټه ډګرساتنه کې ٦ کیچونه نیولي وه.





## په یوه لوبه کې تر ټولو ډېرې منډې (د دواړو لوبډلو مجموعي منډې)

په یوه لوبه کې د دواړو لوبډلو لخوا تر ټولو ډېرې منډې د امو او بست زونونو ترمنځ لوبه کې جوړې شوې وې. د بست او امو ترمنځ لوبه چې د اپریل میاشتې پر ۲۹مه په کندهار کرکټ لوبغالي کې ترسره شوه، بست لوبډلې پکې لومړی توپوهنه وکړه او د ۲۰۳ منډو هدف یې وټاکه. د بست لوبډلې د هدف په تعقیب کې امو لوبډلې ۱۸٦ منډې جوړې کړې، چې دواړو لوبډلو په ګډه ۳۸۸ منډې جوړې کړې. یاده لوبه بست زون لوبډلې د ۱٦ منډو په توپیر ګټلې وه.



## تر ټولو غوره لوبغاړی

د مس عینک زون لوبډلمشر عبدالله لیوال هم د خپلې لوبډلې په ګټه غوره لوبې ترسره کړې، چې له مخې یې د یادو سیالیو تر ټولو غوره لوبغاړی ونوموول شو. لیوال په توپ اچونه کې ۱۱ ویکټې او توپوهنه کې ۷۱ منډې د خپلې لوبډلې په ګټه جوړې کړې وې.



## مخکښ ویکټ اخیستونکی

د بست زون لوبډلې ویکټ ساتونکی مسعود همدرد په یادو سیالیو کې تر ټولو مخکښ ویکټ ساتونکی و. نوموړي د خپلې لوبډلې په ګټه یوازې ۳ لوبو کې ۵ کیچونه نیولي وو، چې له مخې یې د یادو سیالیو تر ټولو مخکښ ویکټ ساتونکی و. د همدرد رول په ځانګړې ډول پایلوبه کې اغېزناک و، چې د خپلو توپ اچوونکو سره یې د پوره همکارۍ ترڅنګ ۴ مهم کیچونه اخیستي وو.

د یادونې وړ ده، چې د افغانستان کرکټ بورډ د هېواد معلولینو لوبغاړو ته د ښې پاملرنې په موخه هغوی ته کال کې دوه ځله د سیالیو کولو موقع برابره کړې ده. دغه لوبغاړي چې مخکې یې کال کې یوازې یو ځل سیالۍ درلودې، خو اوس هرو شپږو میاشتو کې د لوبو کولو فرصت لري.






# بسته کامبو انترنت فایبر

**500 GB**

1250 افغانی

| | |
|---|---|
| 80Mbps اپلود | 60Mbps دانلود |
| 200 دقیقه تماس به سایر شبکه های داخلی | تماس‌های نامحدود از دیجیتل به دیجیتل و شبکه سلام |

همیشه سریع، همیشه متصل



برای شماره های دیجیتل: 333 برای سایر شبکه ها: 0203330333 واتساپ: 0745 111 333

افغان
Afghan Telecom





# افغان اتلانو په هند او افغان ابدالیانو

## په سریلانکا کې سیالۍ ترسره کړې






د افغانستان کرکټ ملي او الف لوبډلو د روان کال د جون میاشتې په لړ کې هند او سریلانکا ته سفرونه وکړل او هلته یې په بېلابېلو نړیوالو سیالیو کې ګډون وکړ. د هېواد ملي لوبډلې هند ته سفر وکړ او د کوربه هېواد د ملي لوبډلې پر وړاندې یې یوه ټېسټ او درې یو ورځنۍ نړیوالې سیالۍ ترسره کړې. د هند پر وړاندې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې سیالۍ د دواړو کرکټ بورډونو ترمنځ د نړیوالو سفرونو د پروګرام له مخې تنظیم شوې وې، چې د جون میاشتې له شپږمې تر شلمې نېټې پورې د هندوستان په څلورو بېلابېلو ښارونو کې ترسره شوې. د دواړو لوبډلو ترمنځ سیالۍ په یوازینۍ ټېسټ لوبې پیل شوې، چې پکې کوربه هندۍ لوبډلې په لوی توپیر بریا خپله کړه. له ټېسټ لوبې وروسته افغان لوبډلې د کوربه لوبډلې پر وړاندې درې یو ورځنۍ نړیوالې سیالۍ هم ترسره کړې، چې په ټولو کې هندۍ لوبډلې بریاوې خپلې کړې





که څه هم افغان لوبډلې د هند د سفر پر مهال خپلې ټولې سیالۍ وبایللې، خو یو شمېر افغان لوبغاړو د پام وړ لوبې ترسره کړې او خپلې وړتیاوې یې په ښه ډول وښودې. د دغو سیالیو تر ټولو ستره لاسته راوړنه د محمد سلیم ساپي ځلېدنه وه، چې د خپلې چټکې او اغېزمنې توپ اچونې پر مټ یې د افغانستان د چټکې توپ اچونې راتلونکې ته نوې هیلې پیدا کړې. د نوموړي ترڅنګ رحمن الله ګربز او رحمت شاه زرمتی د توپوهنې په برخه کې او ننګیال خروټی او راشد خان د توپ اچونې په برخه کې ښه وځلېدل. همداراز، په وروستۍ یو ورځنۍ نړیواله لوبه کې لوبډلمشر حشمت الله شهیدي هم سلیزه جوړه کړه او د لوبډلې لپاره یې غوره توپوهنه ترسره کړه. د هند سفر که څه هم د افغان لوبډلې، اداري او کرکټ مینه والو د تمو خلاف پای ته ورسېد، خو د نړۍ له سترو او پیاوړو لوبډلو سره سیالۍ تل لوبغاړو ته د زده کړې او پرمختګ نوي فرصتونه برابروي. افغان لوبډلمشر حشمت الله شهیدي د سیالیو په پای کې له رسنیو سره په خبرو کې وویل چې دغو سیالیو دوی ته هغه برخې په ګوته کړې چې لا ډېر کار ته اړتیا لري. نوموړي زیاته کړه چې لوبډله به له دغو تجربو څخه په ګټې اخیستنې راتلونکو سترو سیالیو ته لا ښه چمتووالی ونیسي. نوموړي دغه راز د یو شمېر لوبغاړو ځلېدنه د دې سفر له مهمو لاسته راوړنو څخه وبلله.



د ملي لوبډلې د هند د سفر پر مهال افغان ابدالیان لوبډله هم په سریلانکا کې په سیالیو بوخته وه. افغان ابدالیانو د سریلانکا الف او هندوستان الف لوبډلو پر وړاندې د یو ورځنیو سیالیو په درې اړخیزه لوبلړۍ کې ګډون وکړ. افغان ابدالیانو خپله لومړۍ لوبه د هندوستان الف لوبډلې پر وړاندې ترسره کړه او د یوې غوره لوبې پرمټ یې بریا خپله کړه، او په دغه لوبلړۍ کې یې خپل سفر په بریا سره پیل کړ.

خو له دې بریالي پیل وروسته افغان ابدالیان په پاتې درې سیالیو کې له ماتې سره مخ شول او ونه توانېدل چې د لوبلړۍ پایلوبې ته لار ومومي.

افغان لوبډلې د سریلانکا الف او هندوستان الف لوبډلو پر وړاندې دوه-دوه سیالۍ ترسره کړې. افغان ابدالیانو د هندوستان الف لوبډلې پر وړاندې د ډې ایل سیسټم له مخې د څلورو منډو په توپیر بریا ترلاسه کړه، خو په پاتې لوبو کې سیالو لوبډلو بریاوې خپلې کړې.

د هندوستان الف او سریلانکا الف لوبډلو په پرتله د افغان ابدالیانو په نوملړ کې زیاتره نوي او ځوان لوبغاړي شامل وو، چې ډېرو یې یوازې د ګوټو په شمېر لیسټ اې سیالۍ ترسره کړې وې. په داسې حال کې چې د سیالو لوبډلو په ترکیب کې داسې لوبغاړي هم موجود وو چې له سلو څخه زیاتې نړیوالې او له دوو سوو څخه زیاتې لیسټ اې سیالۍ یې ترسره کړې وې. سره له دې چې افغان ابدالیان د ډېرو تجربه لرونکو لوبغاړو پر وړاندې لوبېدل، خو ځوانو افغان لوبغاړو د پام وړ وړتیاوې وښودې او د خپل روښانه راتلونکي زېری یې ورکړ. حسن عیسی خېل، عمران میر، بهیر شاه محبوب، فیصل خان شینوزاده، فرمان الله ساپی، فریدون داودزی او عبدالله احمدزی هغه لوبغاړي وو چې په دغو سیالیو کې یې ښه ځلېدنه درلوده.





حسن عیسی خېل، عمران میر او بهیر شاه محبوب د توپوهنې په برخه کې د پام وړ کارکردګي وکړه، په داسې حال کې چې عبدالله احمدزی او فریدون داودزي د توپ اچونې په برخه کې وځلېدل. د افغان لوبغاړو له ډلې تر ټولو ځلېدونکی لوبغاړی فرمان الله ساپی و، چې هم یې په توپوهنه او هم په توپ اچونه کې اغېزمنه ونډه واخیسته. نوموړي په څلورو سیالیو کې ۱۰ ویکټې ترلاسه کړې، چې نه یوازې د افغان لوبډلې بلکې د ټولې لوبلړۍ د مخکښ توپ اچوونکي مقام یې هم خپل کړ. د غوره توپ اچونې ترڅنګ هغه په درې پاڼیو کې ۹۵ منډې هم جوړې کړې او په یاد سفر کې د افغان لوبډلې یو خورا بریالی او غوره لوبغاړی شمېرل کېږي.

د الف لوبډلو سیالۍ په اصل کې د ځوانو لوبغاړو د وړتیاوو د لوړولو او نړیوال کرکټ ته د هغوی د چمتو کولو لپاره ترسره کېږي. د دغو سیالیو موخه یوازې د بریاوو ترلاسه کول نه، بلکې د راتلونکو لوبغاړو روزل او د هغوی مهارتونو لوړول هم وي. له همدې امله، که څه هم افغان ابدالیانو په دې لوبلړۍ کې یوازې یوه بریا ترلاسه کړه، خو د یو شمېر ځوانو لوبغاړو ځلېدنه او پرمختګ هغه مهمې لاسته راوړنې وې چې افغانستان کرکټ بورډ یې هرکلی کوي او د هېواد د کرکټ د راتلونکي لپاره یې ارزښتناکې ګڼي.

افغانستان کرکټ بورډ ژمن دی چې د هېواد د ځوان لوبغاړو د ودې او پرمختګ لپاره اړین ګامونه پورته کړي او هغوی ته په نړیواله کچه د لا ډېرو سیالیو فرصتونه برابر کړي، ترڅو لوبغاړي د نړیوال کرکټ تجربه ترلاسه کړي، د سیالیو له فشار سره بلد شي او په راتلونکي کې د افغانستان په استازیتوب لا غوره لوبې ترسره کړي.



# رحمن الله ګربز

## رحمن الله ګربز

### په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۲۰۰۰ منډې بشپړې کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې ځوان او تکړه پیلیز توپوهونکي رحمن الله ګربز په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۲۰۰۰ منډې بشپړې کړې او اووم افغان لوبغاړی شو چې دغه کارنامه په خپل نوم ثبتوي. نوموړي تر دې مهاله په ۵۵ یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې د هېواد استازیتوب کړی او د ۹ سلیزو او ۷ نیمه سلیزو پر مټ یې د ۳۷.۷۰ منډو په اوسط سره ۲۰۳٦ منډې جوړې کړې دي. ګربز د افغان لوبغاړو له منځه په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې د تر ټولو ډېرو سلیزو ریکارډ هم لري. نوموړي په دې بڼه کې ۹ سلیزې جوړې کړې دي. هغه په شل اوریزو نړیوالو سیالیو کې هم یوه سلیزه جوړه کړې ده، چې له دې سره یې په





# RAHMANULLAH GURBAZ

نړیوال کرکټ کې د سلیزو شمېر ۱۰ ته رسېدلی او د افغان لوبغاړو ترمنځ په دې برخه کې هم مخکښ مقام لري. رحمن الله ګربز د هند د سفر پرمهال په نړیوال کرکټ کې ۲۰۰ شپږیزې هم پوره کړې او له محمد نبي وروسته یوازنی دویم افغان لوبغاړی شو چې دغه کارنامه په خپل نوم کوي. نوموړی اوسمهال په نړیوال کرکټ کې په ۲۰۵ شپږیزو سره دویم مقام لري، په داسې حال کې چې محمد نبي په ۲۴۷ شپږیزو سره لومړی مقام له ځان سره لري. له بلې خوا په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې د ډېرو منډو له پلوه رحمت شاه زرمتی د ۴۱۲۱ منډو په لرلو سره لومړی، محمد نبي په ۳۷۹۲ منډو سره دویم، محمد شهزاد په ۲۷۲۷ منډو دریم، حشمت الله شهیدي په ۲٦۰۷ منډو څلورم، اصغر افغان د ۲۴۲۴ منډو په جوړولو سره پنځم، نجیب الله ځدراڼ د ۲۰٦۰ منډو په لرلو سره شپږم او رحمن الله ګربز د ۲۰۳٦ منډو په جوړولو سره اووم مقام لري. د دوی تر شا ابراهیم ځدراڼ د ۱۹۰۲ منډو سره د ۲۰۰۰ منډو پولې ته تر ټولو نږدې لوبغاړی دی.





# راشد خان په نړیوال کرکټ کې
# ۴۵۰ ویکټې بشپړې کړې



د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې ځلانده ستوري او مخکښ ورو توپ اچوونکي راشد خان په نړیوال کرکټ کې ۴۵۰ ویکټې پوره کړې. نوموړي دغه مهمه کارنامه په خپله ۲۳۷مه نړیواله پانۍ کې ثبت کړه او لومړنی افغان لوبغاړی شو چې په نړیوال کرکټ کې د ۴۵۰ ویکټو پولې ته رسېږي.

راشد خان تر دې مهاله په ټېسټ کرکټ کې ۴۵، په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۲۱۴ او په شل اوریزو نړیوالو سیالیو کې ۱۹۳ ویکټې ترلاسه کړې دي.

سربېره پر دې، نوموړي په شل اوریزو سیالیو کې ۷۲۳ ویکټې ترلاسه کړې، چې نه یوازې د افغان لوبغاړو ترمنځ تر ټولو ډېرې دي، بلکې په نړیواله کچه هم د شل اوریز کرکټ تر ټولو لوړه شمېره بلل کېږي.








# حشمت الله شهيدي په يو ورځنيو نړيوالو سياليو کې ۲۵۰۰ منډې بشپړې کړې



د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې لوبډلمشر حشمت الله شهيدي په يو ورځنيو نړيوالو سياليو کې د ۲۵۰۰ منډو پړاو بشپړ کړ او له رحمت شاه زرمتي، محمد نبي او محمد شهزاد وروسته څلورم افغان لوبغاړی شو چې دغه مهمه لاسته راوړنه په خپل نوم ثبتوي. نوموړي تر دې مهاله په ۹۴ پاڼيو کې توپوهنه کړې ده او د يوې سليزې او ۲۲ نيمه سليزو پر مټ يې د ۳۳.۴۲ منډو په اوسط سره ٢٦٠٧ منډې جوړې کړې دي. شهيدي د نړيوالو يو ورځنيو سياليو سربېره، په لېسټ اې کرکټ کې هم د خپلو منډو شمېر ۴۰۰۰ ته رسولی دی.




Super cola
16
RAHMAT